# د درې ورځو میلمانه

پرون راغلو نن دلې سبا ستانه یو
دنیا ستا په کور درې ورځې میلمانه یو

د پلونښې به موږ وي او موږ به نه یو
موږ ملګري د فنا د کاروانه یو

چې دا وریځې لړ خپرې شي موږ به هم ځو
پنا شوي دلته لږ له بارانه یو

زر سپرلي که راشي لاړشي نه غوړیږو
موږ سیزلي سرو لمبو د بیلتانه یو

د مرګي د سیند څپو یو را اخستي
نه دریږو نه ستنیږو په یانه یو

نن سبایي په موږ سترګې درنې شوي
اوس پوه شوي موږ په نیت د کوربانه یو

ده څرګنده راته ستا د اجل هنده
مرګه ښه خبر شه موږ هم پښتانه یو

زموږ لاره د حق لاره ده حافظه!
موږ د سپکو پسې نه ځو چې درانه یو

۱۹/۹/۱۳۶۹

روژه ۱۳ نیته شاه شهید د ګهیځ اوه بجې

# زموږ په کلي

داغـــــه غم دی چې راغـي زمـــــوږ په کلي
ځـــــه ستم دی چې راغي زمـــــوږ په کلي
کـــــه په نورو کلیـــــو شي باران د ګلو
راکـښته بم دی چې راغي زمـــــوږ په کلي
په دې غم مـــــوخـــــو لا یخــــه د چانه ده
وایي کم دی چې راغي زمـــــوږ په کلي
خـــونړی سیـــلاب د مـــرګ په غـــورزنګو دی
ګـــوري سم دی چې راغي زمـــــوږ په کلي
انـــګـــولاده فــــــــــریادونه دي ژړاده
لوی مـــاتم دی چې راغي زمـــــوږ په کلي
یو غم نه دی چې زمـــــوږ په کلي راغی
دم په دم دی چې راغي زمـــــوږ په کلي
که بلا که مـصـیبت دی نه ځي بل خـــوا
ځـــــه رقم دی چې راغي زمـــــوږ په کلي
ای حـــافظه! د غـــــه توره بلا وینې
هو! قـــسم دی چې راغي زمـــــوږ په کلي

۱۳٦۹/۲/۳۰

راډیو انصاري واټ

# د زړونو کور

اوروڼه را زرغـــون شـــول د گلونو په هيـــواد کې
ميـلمـه شـو مـحـرم د اخـترونو په هيـواد کې

قـدم قـدم کې رنگ خـپـورشـو د وينو هره خـوا
د مـرگ تيـاره غـوړيږي د رنگونو په هيـواد کې

نور هرڅـه شـو قـيـمـتـه بې وزلان اخـتـه په غم
بې مـثـله ارزاني شـوه د سـرونو په هيـواد کې

خندا په شـــونډو وچه شـــوه ژړاده هره خـــوا
يو وير دی هر طرف ته د غـــمـــونو په هيـــواد کې

وطن ته مـــو راغلې خـــرابۍ دی رنگ په رنگ
خراب دی له بل هرشي کـور د زړونو په هيـواد کې

طبـيـب نه شتـه حـبـيب نه شتـه د زړونو د عـلاج
فـرياد شـو د غم ياد شـو د رنځـونو په هيـواد کې

حـافظه ! د حـيـرت په سـتـرگـو گـوره ورته تـه
داځـه بې غـيـرتي شـوه د ننگونو په هـيـواد کې

۱۳۷۳/۱۱/۲۲

سرئې ښکته کړي په هر قدم او ګام ګل
يار مې ګل ريبار مې ګل زه ګل پرست يم
ځواب ګل ، وعده يې ګل ده هر پيغام ګل
خوله يې ګل ، سترګې يې ګل بار خويې ګل دي
چا لپاره يې ساتلي دي انعام ګل
ګل قاصده ! چې د ګلو ښارته درومې
ګل ته وړه زما له خوا دوعا سلام ګل
زه به ګل غوندې پرې ولې نه غوړېږم
خندا ګل موسکا ئې ګل هم يې کلام ګل
نېږوهېږم دا به فيض د کوم بهار وي
ستا د چم په باغ او بڼ کې وي مودام ګل
ګل بدنه ستا د سيمې ګل کښوکې
غوړيدلی دی د خاصو سره عام ګل
وريسې به خود ګلونه اقتدا کړي
مسجد ګل ، محراب يې ګل په کې امام ګل
د حافظ د زړه د ګل بلبله راشه
هر کلی ته دی ولاړ په احترام ګل

۱۳۷۶/۱۰/۱۹

کابل تايمني کور

